# ارغنداو که ارغنداب

ارغنداو سيند چي د بابا غره څخه سرچينه اخلي په پيل کي لږ شمال خواته ځي، خو وروسته د جنوب لور ته راګرځي او خپله لار وهي. کله چي د ترنک او ارغستان رودونو سره يو ځای سي نو تقريباً ګرشک ته په دېرش کيلومتري کي د تاريخي هلمند سره غېږ په غېږ کيږي او تر څه مزل وروسته دواړه ځانونه هامون درياب ته غورځوي.

که څه هم په خبرو يا شفاهي ژبه کي ارغنداو تلفظ کيږي خو په تحريري او رسمي ليکنو حتا په تعيلمي نصاب کي هم ارغنداب ليکل کيږي او ويل کيږي. ځکه چي فکر کيږي فارسي کلمه ده. خو دا يوه تېروتنه ده. زما (ليکوال) څېړني ثابتوي چي ارغنداو پروتو پښتو کلمه ده نه فارسي. پروتو پښتو ژبه چي بيا به باندار پر وکړو ۵۰۰ کاله مخکی تر ميلاد د اوسنۍ پښتو او لهجوي وېش مخکي موجوده وه چي باختري او سکايي ژبې ئې څانګې وې.

ارغنداو يوه مرکبه کلمه ده چي دوې برخي لري (ارغند + او). ارغند په اويستا کي اِرِغَنت، سکايی ژبه کي 𐬀𐬭𐬎𐬀𐬯𐬙 ارګند/ ارغند، په باختري/ بلخي ژبه کي αργανδ ارګند او اوسنۍ پښتو کي ارغند دی چي د خښن، جنګره او دلاور په معنا دی. دغه معنا پر اباديس، واژه ياب، فرهنګ جهانګيري، فرهنګ رشيدي، فرهنګ ايران باستان، فرهنګ معين او لغاتنامه دهخدا سربېره مرحوم احمد علي کهزاد هم تائيد کړېده.

د ارغنداو کلمې دوهمه برخه (او) ده چي په سانسيګريت کي 𑀅𑀧 اپ، اويستا کي اپ، سکايي ژبه کي Āw او/ āp په باختري ژبه کي Āv او/ αβo ابو، تاجيکي ژبه ob اوب پښتو کي اوبه او فارسي کي اب ورته ويل کيږي چي جمع ئې ارغنداو يعني خښن سيند يا خښمېدلي اوبه. دا چي ولي خښن بلل سويدی شايد غښتلی دليل دا وي چي ارغنداو د ۳۹۰۰ مترە ارتفاع څخه په جوش او خروش مخ پر کښته بهيږي. نو کله چي د هزاره جات په لوړو درو او شېلو کي مستي کوي او سر د ډبري ډبري وهي معلومداره چي خښن او عصبي کيږي. او ډول ډول هيبت ناکه ږغونه ئې پورته کيږي. اسناد زياتوي تر هغه وخته چي د دهلي په شان بندونه نه ول جوړ سوي ارغنداو به په سرو سترګو ګرځېدی او ورانی ئې کولې، يعني زراعتي مځکي او کلي ئې لاندي کول ځکه خښن او جنګره بلل سوی دی.

ارغند کلمه/ وي د اساکو په اساطيري ښکارهنګ/ کلتور کي د بې باکه، خښن، دلاورو جنګيالو او خښمېدلو اوبو لپاره چي سېلونه ئې بهيول د صفت په حيث کارېده چي وروسته د هندوکش له جنوبي اساکي لهجې څخه فارسي ژبې ته ننوتي ده. او فارسي ژبو شاعرانو هم څو ځايه ارغند ياد کړيدی لکه:

فردوسي په شاهنامه کي: ز دشت اندر آمد يکی تندګور / چو ارغند شيری پديد آمده ز دور.
اسدي طوسي په ګرشاسب نامه کي: بغرّيد بر سانِ ګورِ هُژَبر / بيامَد چو ارغند بارنده ابر.
لنډه دا چي په اويستا کي اِرِغَنت آپ ereghant-āp په باختري لهجه کي ارغندابو Argandabbo او اساکو چي همدغه سيمه د دوی په نامه اسکستان/ سيستان ياده سوېده Arghand-āw ارغنداو باله چي اوسنۍ پښتو بڼه ئې هم ارغنداو ده. دغه اساکي/ پښتني بڼه د تورکيي په شرقي لهجه (زازاکي) او کردي ژبه کي هم د ئاوaw په شان پاته ده. پام مو اوسه چي د دري په عاميانه لهجه او پاميري لهجو کي اوس هم سکايي بڼه (او) استعماليږي يعني اوبو ته او وايي. خو د اب کلمه/ وي ۱۲۰۰ کاله مخکي يعني تر اسلام وروسته د فارسي دري پروسي ته ننوتي ده او اپ په اب اوښتي ده چي وروسته د رودکي او فردوسي په شعرونو کي ليدل سوېده.
پايله دا چي په ارغنداو کي فارسي ټکی نسته.
سرچينې:
ـ د ايراني ژبو ريښه پېژندې ډکشنري. فروفيسر جانی چونګ
ـ د ختن سکايي ژبې ډکشنري. سرهرولډ بيلي.
ـ د رباتک ډبرينه ليکنه. نيکولاس سيمز ويليامز ژباړه

انجنير محمد داؤد اڅک